# د پښتو ژبې فونولوجي

- ژغپوهنه په اساسي توګه په یوه ژبه کښي د وینابیز ږغونو ( Speech Sounds)د نظام او بیلګو و توضیع او تشریح ته وئیل کیږي.
- ږغپوهنه یا فونولوجي د ګرائمر (ښوییه) د مقدمې په توګه هغه برخه ده چي یوازي ارزښتناکه ږغونه (فونیمونه) تر څېړني لاندي نیسي.
- د ږغپوهني دغه برخه یوه نوې او تازه موضوع (سکالو) ده چي د وشلمي پیړۍ په پیل کي په دغه برخه کې نوې علمي څېړني او پلټني وشولې، ځکه پخوا داسي فکر کېدلی چي توري (حروف) د ژبې د دنیا بنسټ دی، خو اوس دا ثابته شوه چي ژبه له انساني ږغو څخه ترکیب او رغول شوې ده.
- هم دغه انساني ږغونه چي د یوې ژبې جوړونکي توکي (عناصر) تشکیلوي فونیم (یا اوازیې واحد ) بلل کیږي.
- که څه هم دغه ږغیز واحد په یوازي توګه بې مانا دي، خو د کلمې په مینځ کې خپل مانیزه نقش افاده کوي.

# د پښتوژبې فونولوجي

- فونیم څه ته وائي؟

فونیم یا اواز د ژبې تر ټولو کوچنی ږغیز توکی / عنصر دی چي په خپله کومه مانا نه لري، خو په مانیزو کلموکي مانیز توپیر پیدا کوي.

- د بیلګې په توګه:

ت په پښتوکي یو اواز / ږغ دی چي یو لغت لکه توریې له بل لغت لکه پور څخه بېل کړئ دی.

# د پښتو ژبې فونولوجي

## ❖ پښتو فونیمونه او د هغه ډولونه

د پښتو ژبه له ۳۶ اوازونو څخه جوړه شوې ده، چې په لاندي ډول دي:

❖ خپلواک / واول :(Vowel)

خپلواک هغه ږغونو ته ویل کیږي، چې د تلفظ یا ادا کېدو پر وخت باندي صوتي غړي په تماس کښې نه وي. او د هوا په جریان کښي کوم بندیز نه پېښیږي او د تلفظ په وخت کې ژبه، شونډې او نور صوتي غړي د بیلا بیلو حرکتونو له امله بیل بیل شکلونه غوره کوي.

# د پښتوژبې فونولوجي

- پښتوژبه اووه (۷) خپلواک ږغونه لري،
- a - لنډ الف (زور ، فتحه)
- ā – (اوږد) الف
- u– (لنډ) و
- o – (اوږد) و
- i –(لنډه) ي
- e – (اوږده) ې
- ə – زورکی
- یادونهŪ اوږد معروف (و) او (i) اوږده معروفه (ي) یوازي په کندهاري ګړدود اړه لري، په عربي او پارسۍ کې، ګوره ډېر راځي. ( پښتو پښويه مخ ۶۱)

# د پښتو ژبې فونولوجي

- يادونه:

وتلی روسي ليکوال اسلانوف د (د افغانستان ملي ژبه) کښي د پښتو ژبې خپلواک ږغونه اته (۸) اته ياد کړي دي. هغه اته خپلواک ږغونه دا دي:

ا ، ه ، ۀ ، ى ، ې ، ی، ي ، و      (د افغانستان ملي ژبه مخ ۲۳)

- يو بل وتلي ليکوال او ژبپوهه صديق الله رښتين د خپلواک ږغونو د پاره د کومکي توري (vowel) اصطلاح کاروي، او په خپل (پښتو ګرائمر) کښې څلور خپلواک ږغونه يادوي. هغه داسي دي:

(الف ، و ، ی، ه)

(پښتو ګرائمر مخ۳۸)

# د پښتو ژبې فونولوجي

❖ بېواک ږغونه / اوازونه : (Consonant)

د پښتو ژبې بېواک ږغونه هغه اوازونه دي چې له را پیدا کېدو ، یا په بله وینا، له خولې څخه د راوتو پر وخت د سا هوا له بندیز سره مخامخیږي. لکه ب، پ، ټ، ګ، ک،

❖ د پښتو بېواک ږغونو شمېر نویست / نویشت ۲۹ دی . (پښتو پښویه مخ ۶۱)

❖ پښتو دا لاندې اته (۸) ږغونه خپل لري:

ټ، څ، ځ، ډ، ړ، ږ، ښ، ڼ

# د پښتو ژبې فونولوجي

- د عربي لس ږغونه
- دا رنګه د پښتو ژبې په مروجه الفبا کښې لس (۱۰) ږغونه هم سته چي دغه اوازونه په مستعار ډول په عربي کلمو کښې کارول کيږي. خو په پښتو کلمو کښې دغه ږغونه نه راځي، ځکه دغه لس اوازونه په عربي ژبه کې د خاصو عربي ږغونو په نامه ياديږي. دغه اوازونه په هغو کلمو کښې کارول کيږي چي پښتو ژبې ته له عربي ژبې څخه راغلي دي او اوس په پښتو کښې مستعمل (رواج) دي.

- ث – ثابت ، باعث ، وراثت
- ذ – ذلت ، مذکور ،
- ض – ضرر، مضروب
- ظ – ظالم ، مظلوم ، ناظم
- ف – فرمان ، کافر ، نافع

- ح – حوض، حاضر، حضور
- ص – صبر ، بصرو صبور
- ط – طالب، باطل ، ناطق
- ع – عادت ، طاعت ، معلم
- ق – ناقوس ، توافق

# د پښتو ژبې فونولوجي

- د دري او پښتو څلور ګډ اوازونه

دا څلور (پ، چ، ژ، ګ) د دري ژبې خاص ږغونه دي چې د پښتو او دري ژبو تر منځ په ګډه کارول کيږي، او په عربي ژبه کښې نه سته. (محمد صابر خويشکی، پښتو غږپوهنه او وييپوهنه، مخ ۱۳ کتاب)

## نیمواک / نيم واکه اوازونه: (Semi-Vowel)

دا هغه ږغونه دي چې د خپلواک او بېواک دواړو وظيفه پر ځای کوي او د دواړو ځانګړتياوي لري، يا په بله وينا، هم د خپلواک / واول او هم د بېواک / کانسونېنټ په ډول ادا کيږي.

- که د څپې زړی وګرځي، د خپلواک بڼه اخلي او که د څپې زړی ونه ګرځي نو د بېواک په بڼه کې څرګنديږي، لکه منځنی اواز په بېل (bel) او بيا (bya) کي، يا لکه و په ګل (gol) او بيا (gwa) کې.

# د پښتو ژبې فونولوجي

- پښتو نیمواک اواوزنه دوه دي: (و- w او -ی- y) (پښتو پښتویه، مخ ۲۹)
- د (و او ی) نیمواک ږغونه د څپو په پیل او مینځ کې راځي او په پای کې یوازي د غبرګږغ (غبرګغږ) په توګه راځي. (پښتو غږپوهنه او وییپوهنه، مخ ۱۶)

- غبرګ ږغونه / غبرګږونه (خپلواک مرکب / ډیفتانګونه)

غبرګ ږغونه هغه اوازونه دي چې د خپلواک او نیمواک په ملګرتیا مینځته راځي، یا په بله وینا هر پښتو غبرګ ږغ دوه فونیمي توکي / عناصر لري: لومړی توکی / عنصر یې یو خپلواک فونیم او دویم توکی یې یو نیمواک فونیم دی. په پښتو غبرګ ږغونه دوه دي: (و او ی)

# د پښتو ژبې فونولوجي

- (ew)لکه په لېو (lew) کې
- (aw) لکه په لو (law) اوکندهٔو (kandaw) کې
- (āw)لکه په پړاو (parāw) اوجړاو (jarāw) کې
- (aw)لکه په کتهٔو(kataw)کې

- د ی /y/ غبرګ ږغونه په لاندي ډول دي
- (ay) لکه: ایوان (aywān)، مېره (mayra)، سړی (saray)
- (āy) لکه: اینه (āyna)، ځای